INTERNATIONAL PREMIER JOURNAL OF LANGUAGES & LITERATURE (IPJLL)
VOLUME 4, ISSUE 1, 2026 p-ISSN: 3007-2336 e-ISSN: 3007-2344

# د درویش دراني په غزل کښ حقیقت ناري یوه جائزه

# A REVIEW OF REALITY IN DARVISH DURRANI'S GHAZAL


| | |
|---|---|
| Sumaira<br>sumairaposhto@gmail.com | MPhil Pashto Scholar, Abdul Wali Khan University Mardan (AWKUM) |
| Dr Syed Zafar Ullah Bakhshali<br>Zafar@awkum.edu.pk | Assistant Professor, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University Mardan (AWKUM) |
| Miss Nagina<br>Nagina@awkum.edu.pk | Lecturer, Department of Pashto, Abdul Wali Khan University Mardan (AWKUM) |


**Abstract**

This study critically examines the element of realism in the ghazals of Darwesh Durrani, a prominent contemporary Pashto poet from Balochistan. The paper explores how Durrani's poetry reflects the socio-political, cultural, and existential realities of Pashtun society. Through textual analysis of selected ghazals, the study highlights the poet's engagement with themes such as war, social injustice, class disparity, collective negligence, and human suffering. The research further situates Durrani's poetic expression within broader philosophical discourses, particularly existentialism, emphasizing the tension between existence and non-existence, and the psychological struggles of individuals in conflict-ridden environments. His poetry not only portrays harsh ground realities but also incorporates elements of romantic realism, where emotional depth and subjective experience are given significant importance. Moreover, the study underscores Durrani's critique of political instability, external interference, and internal disunity within Pashtun society. His ghazals serve as a powerful medium for articulating resistance, awareness, and the need for social cohesion and peace. The analysis concludes that realism in Durrani's ghazals is multifaceted, blending personal, social, and philosophical dimensions, thereby establishing his work as a significant contribution to modern Pashto literature.

**Keywords:** *Darwesh Durrani, Existential Philosophy, Pashtun Society, Realism in Pashto Literature, Socio-political Critique*

**Corresponding Author:** Sumaira (MPhil Pashto Scholar, Abdul Wali Khan University Mardan (AWKUM))
**Email:** sumairaposhto@gmail.com

درویش درانے د مئ په خلورمه نېټه کال ۱۹۵۳ء کښې د پشین ضلعي په گلستان نومي سیمه کښې د اروابناد احمد شاه دراني کره سترگي غړولي دي د روېش دراني د شلمي صدی د وروستی نیمايي ياد شاعر دے او هغهٔ د پښتني خاوري د سیاسي سماجي او کلتوري اړخونو هغه بدلونونه ولیدل کوم چې دلته وشول او د پښتني خاوري د لمبه لمبه حالاتو چشم دید گواه دے. ځکه نو د یو داسي شاعر په شاعری کښي به لازم د ژوند واقعیتونه موجود وي درویش دراني په نظمونو او غزنولو کښي د حقیقت نگاری بلها ځرکونه په نظر راځي خو مونږ په دے مقاله کښي د دوي د غزلونو جاج اخلو هغه وائي چې

په هره اوښکه کقي مو لمر ویدهٔ دے
ځپلوويښ ئي کړئ سحر ویدهٔ دے
د دوزخیانو په حال ځهٔ خبریږي
ځوک چې پرغاړه کوثر ویدهٔ دے

د دے اولس په ظاهر مهٔ تېروزه
سترگي ئي روني دي مگر ویدهٔ دے
بیا دغفلت پهٔ ځنگه تور تلتک کښي
درویش انغښستے دے خپل سر ویدهٔ دے 1

دلته مونږ وینو چې خواري کښي او خپلي طبقي ته مخاطب دے چې زمونږ اوښکو کښي نمر اودهٔ دے او سحر هم که مونږ ئي غواړو نو راویښول ئي شو. ځکه چې کهٔ دا مونږ خپله ونهٔ کړو نو د کوثر په غاړه اودهٔ خو د دوزخیانو په حال نه خبریږي. دلته بنیادي طور د طبقاتي فرق خبره ده. دغه دریم شعر کښي زمونږ د قامي غفلت طرف ته اشاره ده چې په ظاهره خو ویښ ښکارو خو حقیقت کښي د غفلت په خوب اودهٔ یو. سره ئي پهٔ خپل ځان هم طنز کړی چې د غفلت پهٔ خوب اودهٔ یم. دا زمونږ د سماج یو ژوندے عکس دے او بهترینه ترجماني ده.

په شان د مړي دي مدام زه پر اوږو گرځوم
سترې ژوندونه تا به دا رنگه تر څو گرځوم 2

په نړیواله سطح انساني تهذیب د مشین د اثر لاندې دی او بیا د پښتنو په خاوره د کلونو کلونو د روان جنگ په وجه انسان له ژونده ستړے شوے او د وجود او عدم یا هستی او نیستی پهٔ کشمکش کښي مبتلا دے.

هستي او نیستي د وجودیانو د نظري مباحثو اهم موضوعات دي. چې د هستی نه مراد وجود دے او نیستی نه مراد عدم یا شے دے وجودي مفکرین پهٔ وجود زور راوړي چې وجودي فلسفه پهٔ دې وېنا اډانه ده " وجود پهٔ جوهر مقدم دے" د وجودي فلسفي مفکرینو د وجود نه مراد هستي ده او د جوهر نه مراد " نیستي ده. د هستی تعریف کول اسان نه دي ولې چې هستي د نیستی دویم نوم دے ولې چې تعریف د معروضي

ځیزونو ممکن وي او هستي معروضي نه بلکي موضوعي حقیقت دے. د وجودیانو پۀ خیال هستي پۀ اصل کښې د نیستۍ دوېم نوم دے. ولې چې هستی یو معروضی حقیقت نه دے بلکې موضوعي صداقت دی. شاید ځکه هستي د معروض له یو ځیز سره هم مماثلت نه لري ولې چې د دنیا چارپېرچل ټول صرف نیستی او نیستي ده.

د وجودیانو پۀ خیال انساني هستي سائنس اؤ د عقل د لارې لټون کول یو عبث کار دے ولې چې هستي څۀ معروضي وجود نۀ لری. د انساني وجود معلومولو د پاره بې چینی اضطراب دهشت او د وجودي مرګ د داخلي وارداتو د تېرېدلو نه پس د خپل وجود حقیقت پېژندل شي.

دا د ژوند سره تړلي داسې حقائق دي چې درویش دراني خپل پورته شعر کښې پۀ ډېر جامع انداز کښې د سټریا د اصطلاح سره بیان کړے انسان چې ژوند هم وي او ژوند لکه د مړي په اوږو راکاږې نو دا د وجود او عدم د کشمکش غوره حقیقت پسندانه عکاسي ده.

وم توري خاوړې خو اوس زر شومه زۀ
داسې دمیني پۀ اثر شومه زۀ
دا ستا دتلو پۀ وخت لمر مخي یاره
زیړے پۀ شان دمازیګر شومه زۀ
څوک مې راتګ وته لاس نۀ سرۀ کوي
پۀ شان دخوارو داختر شومه زۀ 3

دلته وړومبو دوؤ شعرونو کښې د رومانوي حقیقت نګاری څرک لیدې شي. رومانویت کښې جذباتو ته اهمیت ورکول یا د جذباتو عکاسي کول یؤ مهم عنصر دے. د کلاسکیت ټوله مقدمه د عقلیت پۀ بنیاد وه او انساني جذبات ئې نظر انداز کړي وو ځکه د هغې پۀ رد عمل کښې رومانیت د جذباتو مقدمه وړاندې کړه اؤ جذباتو ته ئې پۀ عقلیت ترجیح ورکړه کلاسکیت د عقل او خالص فکر په بنیاد انساني جذبات د پښو لاندې کول او د جذباتو په بې شمېره لاشونو د بې روحه سانچو او جامد اصولو د عظمت منارې اودرول غوښتل نو له دغې وجې رومانیت جذباتو ته توجه ورکړه ځکه نو پورته شعرونو کښې د جذباتو عکاسي اؤ دا د رومانوي حقیقت نګاری غوره نمونې دي. ولې دریم شعر د خوارو اؤ نتلو ځپلو خلکو د اختر خبره شوې نو دا هم د ژوند حقیقت دی چې د خوارو اختر هم د ژړا اؤ د غم دی ځکه چې د نشت پۀ احساس کښې ئې لا شدت پیدا شي.

پر سپوږمۍ باندې خو ئې ولګاوه پل درویشه
ګوره چې کله به انسان د زړه ته رسي 4

د پښتنو خاوره اول برطانوي استعمار لوټ کړه اؤ چې کله ورته د هغوي نه ظاهري ازادي ملاؤ شوه نو اوس ئې د ریاست خپله اشرافیه لوټي. نو دلته شاعر وائي چې نور خو ئې رانه هر څۀ لوټ کړل په سر

مو دغه یو اسمان پاتې دی دا رانه لوټ نه کړي. دا د نن دور د دې خاورې حقائق دي. دې لاندې شعرونو کښې دا المیه پهٔ لا نور وضاحت سره بیان شوې ده.

دښمن په زوره ننوت په کور د پښتانهٔ
خودغه ک کار ئې هم وکړه په زور د پښتانهٔ
څالاکه دښمنان چې ئې سر وړي هغه مهال
مشغول لکه ماشوم کړي په څه وروړ د پښتانهٔ
ستي د پښتانهٔ پهٔ وجود ولګوي غاښ
چې هر یخزن مار تود شي په اور د پښتانهٔ
ویړیا به ئې هم در کړي که ئې زړهٔ وي ستا په کار
خو سر په هر حالت کښې دے پهٔ پور د پښتانهٔ
درویش ور په ې ټول عمر اخستی وه څراغ
خو چرته ئې ه ې هم ونه لید غمخور د پښتانهٔ[5]

دلته د پښتنو او د دوي د خاوره حقیقت پسندانه ترجماني شوې ده. رښتیا خبره دا ده چې د پښتنو پهٔ خاوره هر چا تر خپله وسه او خپله بسه ظلم او جبر کړے. پښتنو کښې دننه ئې ځان ته خلق پیدا کړي دي او د هغوي په ذریعه خپل ناوړه عملیات ترسره کوي پښتانه ئې پهٔ خپل کور کښې سره نښلولي دي، په خپل کور کښې ئې بې اتفاقه او بې اتحاده کړي دي. د دغې هر څهٔ پهٔ تناظر کښې اخر شاعر وائي چې زهٔ ډېر و ګرځېدم څراغ مې وګرځولو خو د پښتنو غمخور او غمخوار مې پیدا نه کړو.

دي ماښام غوندې تور مخي سهارونه د دې مزکې
د اسمان تر ستورو زیات شول پرهارونه د دې مزکې
تهٔ چې دا رنګه روان یې د جنت پر طرف باندې
ای شهیده پرېږدې چاته وران کارونه د دې مزککې
مونږ په شان د وچو ونونه موکل شته نه مو پاڼه
شول په ښه د نورو خلکو بهارونه د دې مرکې
مونږ خوړلي په وار وار دي کلک وارونه له اسمانه
مونږ سهلي په بیا بیا دي ګزارونه د دې مزکي
ته څه وائي اے درویشه په دې قول کښې د خلکو
چې ولاړ دي پر هډوکو لوی ښارونه د دې مرکې[6]

مطلع کښې د دې جنګ زپلې خاورې د المیي عکاسي ده چې دلته سحرونه هم لکه د ماښامونو تور دي اؤ د دې زمکې پرهرونه دومره زیات شول لکه د اسمان ستورې. دویم شعر کښې طنز دے یعنی کوم څوک چې مرګ ته ترجیح ورکوي هغوي دا ورانه ویجاړه دنیا چاته پرېږدي؟ دا خو یؤ قسم له تېښته شوه نو باید چې د مرګ د خوښولو پهٔ ځائے د دې خاورې د امن آبادئ او سوکالئ دپاره عملي هلې ځلې وکړو . دریم

شعر کښې سامراجي لوټمار ته اشاره ده ځکه چې مونږ ته خدائی ډېره شتمنه خاوره راکړې ده. دلته هر قسمه وسائل شته خو پردو خلقو تري ګټه پورته کړه او مونږ تري محرومه یو دلته که یو طرف ته مونږ د فطري حوادثو له خوا وهلي شوي یو نو بل طرف ته پهٔ دې مزکه هم چاپهٔ ارام نه یو پرېښودي او د مقطعي دا خبره بالکل حقیقت ده چې دلته د خلکو په هډونو لوی لوی ښارونه اباد دي. دلته د ظلم او جبر داستانو ثبت دي. دلته د تاریخ لمنه په وینو سره درویش دې ټول غزل کښې د حقیقت نګارۍ غوره نمونې راوړې دي.

داسي حال غواړو داسي وخت ته انتظار کوو مونږ
چې زورور وژلي نهٔ شي د کمزوري رڼا7

په دې تاریخ ګواه دی چې کمزوري چرته هم ځان ته د څهٔ لړې رڼا غم کړے دے نو هغه رڼا ورته زورور وژلي ده. د زورور د زور مانۍ د کمزوري په تیارو ولاړه ده که د هغهٔ تیاره ختمه شي او په رڼا کښې شي نو بیا د زورور هر څهٔ ختمېږي ځکه نو زورور نه غواړي چې کمزوري دې په رڼا کښې وي.

دا ستا د مینې په خاطر مو یو ځل بیا اغوستي
وطنه مونږ د سرو زخمونو سره قبا اغوستي

دلته ماښام تل د ماتم په تور لباس کښې راځي
دلته سهار وي د کفن غوندي رڼا اغوسي8

دا داسي وطن دے چې دلته ماښام د ماتم په تور لباس کښې راځي او سحر د کفن غوندي سپینه رڼا اغوستي وي خو بیا هم د دې خاورې بچې پهٔ دې وطن مئین دي او دې د مینې پهٔ خاطر ئې د زخمونو سره قبا اغوستي ده. دا د وطن دوستی او خاورې سره د مینې لوے ثبوت دے۔

پهٔ لیدو دې دبلا کړې سترګې پټې
پکار نهٔ وه مګر تا کړې سترګې پټې
چې به مالهٔ غرقهٔ خوبه تول راوبیں کړل
یؤ ګړی پس به دوي بیا کړې سترګې پټې
دا وګړي په تیارو کښې دي لوي شوي
پهٔ لیدو شي د رڼا کړې سترګې پټې
هغه حال دغسي حال وهٔ اے درویشه
یؤ زهٔ نهٔ ومه هر چا کړې سترګې پټې9

دا زمونږ د موجوده پښتني ژوند یوه لویه المیه ده چې مونږ کښې اجتماعیت ختم شوی. زمونږ نه اتفاق او اتحاد ختم شوی ځکه نو مونږ د بل په درد و غم هم سترګې پټوو او په خپل هم دې پورته شعرونه کښې

هم دغه ناسور ته اشاره ده. دلته څوک د بېدارولو کار وکړي نو لږ وخت پس دوي بيا د غفلت په خوب کلک اوده شي د عشر و عشرو نه دلته د رواني بد امنۍ په حقله داسې سترګې پټې کړي لکه چې دلته هډ و څه شوي نه وي د جهل او غفلت تيارو کښې دوي داسې عادت شوي چې لږه رڼا ووينې نو بيا ئې سترګې برېښي او دا د يو کس دوو مسله نه ده بلکې دلته اجتماعي طور هر چا سترګې پټې کړي د مذمت او مزاحمت جذبه بالکل ختمه شوې. دا د دې وطن د وګړو حقيقت پسندانه عکس دے هم دغه غفلت دے دغه سترګې پټول دي چې بيا دا نتيجې راوړي چې انسان د کوره خفه ووځي او خفه راځي.

نه خپل کور لره ماښام خوشحاله راغلم
نۀ پۀ ښۀ زړۀ تري سحر ومه وتلے[11]

تر دې ځائے د سياسي عواملو خبره کېده څومره پورې چې زمونږ د سماج حقيقتونه دي او د دې ټولنې رغونه کښې شتون لري هغه هم درويش دراني په ډېر ښۀ انداز کښې مخې ته راوړي دي کله چې انسان ،خوږه نرمه او پسته لهجه کاروي نو دا داسې وي لکه د سرو زرو سيکه چې وي او دا هر ځائے چلېږي.

چې خبره وي خوږۀ هر خـــائے چلېږي
دا ده سرو زرو سيکه هر ځائے چلېږي
چې پسر کاڼي دخپل تور زړۀ دې تېره کړه
اوس دې توره څومره ښۀ هر ځائے چلېږي
د اخلاص مخته لباس کوټه پېسه وي
خو اوس دا کوټه پېسه هر ځائے چلېږي
دپرديو جنګ کسوو پۀ خپله مزکه
شپۀ او ورځ درنه وسله هر ځائے چلېږي[12]

د چا چې زړۀ تور وي د هغې مثال د تور کاڼي وي او په تور زړۀ چې د جبر توره تېره شي نو هغه بيا هر ځائے چلېږي ولې بلخوا د اخلاص مخې ته به پخوا د لباس ښودنه داسې وه لکه کوټه پېسه خو نن داسې يو وخت دی چې دغه د لباس کوټه پېسه هم چلېږي د هغې وجه د اخلاص کمے دے. دغه رنګ اخري شعر کښې بيا هم هغه زړه دلته مونږ په خپله خاوره د پردو جنګ ته لګيا يو د اسلام پۀ نوم خبره ده چې استعمال شو. حالانکې اسلام کله هم د داسې حالاتو اجازت نه ورکوي خو سامراجو اسلام د خپلو مفادو دپاره استعمال کړے. د هندوستان د وېش په وخت دلته صرف يوولس کم دوه سوه مدرسې وې. د اميرالمومنين جنرل ضيا پۀ دور کښې يې زياتېدل پېل شو، د سلفيانو د فنډونو په مرسته تر د کال دوه زره اتم پورې د رجسټرډ او ان رجسټرډ مدرسو شمېره څلوېښت زرو پورې ورسېده. خارجي بلواسطه مرستې د دې نه علاوه دي.دې مدارسو کښې پنځۀ نوي سلنه کښې ويړيا سبق ويړيا استوګنه، ويړيا خوراک او ويړيا کتابونه ورکول کيږي. د عمران خان حکومت هم نمايندہ مدرسو ته مرستې ورکړي دي او دا رنګ د انتخاباتو نه وړاندې متعدد اضلاع کښې امامانو ته ماهانه وظيفه مقرر شوې ده. دې کښې زيات تره کار د نوښار ضلع کښې

شوے دے. د خوند خبره دا ده چې د جمیعت علما اسلام مرکزي او صوبایی قیادت د دغه ماهانه وظایفو نه د انکار مستقل کمپین چلوله و او دا یی د حکومت د مدارسو د یرغمال کولو پروسه ګڼلې وه.

دې مدرسو کښې د پښتونخوا او بلوچستان برخه کښی میډیم افا اف انستر کشن پښتو دے. د سنده او پنجاب مدرسو کښې هم د زدکړیالانو او استاذانو شمېره کښې پښتانهٔ ډېر دي او ښکاره دي. دا نظام ټول په اطاعت او سطحي ادب او خود ساخته د مراعاتو په ترتیب ولاړ دی. دا د کریټیکل تنکنګ بیخ بنیاد وباسي. دا نظام استعماری سیاست ته خپله ورکړه په ازاد مټ د څو څو لسیزو نه ورکوي. زه دا هم نهٔ وایم چې دې ساحه کښې ټول پهٔ ټوله وګړي د استعمار لاس پوسي دي؛ خو فیصله پهٔ تاریخ او د یو ټولګي پهٔ مقتدره او مهتممینو ودریږي نو دوي د استعماري سیاست ښکار شوي ثابتیږي. دا تمامي عوامل دي چې د پښتون اولس د سیاسي او مذهبي شعور ارتقا لوبوی رالوبوي. دا لوبه چې کله یو اسماني بڼه خپلوي نو یو ډېر غټ صورت یی "غببي امداد وي. د پښتون وطن په سیمه دا قیصې څومره عامې دي چې یو مجاهد سل او زر کفار اووژل د فلانکي شهید د قبر نه خوشبو راتله. مجاهدینو پروسه جوړه کړه خو وسایل نه و نو یو غیبي امداد داسې راغلو چې یو نیک بنده چنده ورکړه حال دا چې دا به ایجنت و کهٔ جاني وسایل به پکار و هم به یو داسې نېک بنده مختلف ملکونو کښې افراد ورکول: د لاجسټک سپل تمامي زمه واریانې دې نېک بندیګانو پوره کولې دا قسمه اثرات پنجابي مذهبی وګړیو کښې ولې رانغله؟ یا راغلهٔ خو د هغوي میدان هم پښتون وطن وګرځېدو دا څکه چې د ریموت کنترول مخه دېخوا وه که وغواړی نو د بر پلویانو غوندې غیر متشدد مشهورو نه هم په ساعتونو کښې وحشیان جوړولې شي!! د رضوي او تحریک لبېک د نیز دو ماضي هلې ځلې یی ګواه دي. دغه یاد غیبي امداد به څنګه ډراماتایزد کېدو؟ دا یو مکار ساینس دے پهٔ دې د اولس صرف او صرف د منطقي بالغ شعور حامل وګړي پوهیږي. دلته دا طبقه د ګوتو په شمار وه دغه د ګوتو په شمار وګړیو پهٔ ادب او سیاست کښې تر خپله وسه خپله زمه واري پوره کړې ده. د دغه غیبي امداد د ډرامې بی هایند د سټېج behind the stage " تمامي حرکیات "کردارونه" ناول په یو زړه راښکونکي او ذهن قبلونکي انداز ثبت کړي دي. دا د پښتو ادب د ناول تاریخي برخه کښې د سیاسی او مذهبی شعور د بلوغ او راسخیت معتبره ګواهي ده.

پهٔ دې خلکو کښې پخوا وه او اوس هم شته
دنفاق لویه بلا وه او اوس هم شته

چې د حق پر لاره باندې به روان شوې
نو په مخکښې کربلا وه او اوس هم شته13

دلته هم یوه سماجی حقیقت پسنده نکته موجوده او هغه د نفاق ده چې هغه پخوا هم موږ کښې وه او اوس هم شته او هم دغه وجه موږ قامي طور ناکامه هم یو بل شعر کښې دې حقیقت ته اشاره ده چې دلته څوک دلته څوک هم د حق د ملګرتیا دباره رامخ ته شوي

نو مخې ته ورته کربلا جوړه ده. دلته د قیصه خوانی د سپین تنګي، د ټکر او بیا د بابړې غوندي خونرېزه واقعات شوي دا صرف او صرف د حق د ملګرتیا په وجه دغه کربلا ورته جوړه شوې ده. د بابړې د پیښې نه پس په خدائي خدمتګارو زور زیاتي نور هم ډېر کړې شو کلي په کلي به پولس او د مسلم لیګ برماشان په خدائي خدمتګارو پسې ګرزیدل. هو ورځ د صوابۍ شوې کلي ته په خدائي خدمتګارو دا خلک ورغلل دلته ئې ، یار مامد خان ، خواجه مامد خان عجب خان هارون خان او د ، سلطان خان، په شان درنه کورنۍ وه د جائداد خاوندان خلک وو . دوئي اونیول کورونه ئې ورله تالا کړل د تماکو ډکې، کوټې ورله اوسیزلي مېښې او غواګانې ورله حلالي کړې. په دغه الغاؤ تلغاؤ کښې یو ماشوم جومات ته او تښتېدو نوې ښځې ئي په دغه ورځو کښې اختر له اخیستي وې هغه ئې پۀ ترخ کښې پټې کړې وې مسلم لیګیان پسې جومات ته ورغلل او د ماشوم نه ئې خپلې واخېستې او په ژړا ئې پرېښود. د صوابۍ پۀ تحصیل سیمه کښې ئې د خدائي خدمتګارو مشران خانانو د نیولو نه پس ئې تې جامې ویستې بربنډ ئې کړل ختې پسې او تپلې په غاړه کښې ورته د ګونګرو ، پټې واچولې . پۀ ښځونو کښې ورته پړې واچول او د کلي کورونو په کوڅو کښې ئې بربنډ ګرزول. زنانو چې د خپلو نارینو دا حال اولیدو نو په کورونو کښې د حیا نه پټې شوې شاته به مسلم لیګ والو دا چغې والې چې دا د هندوانو مرګري دي د پاکستان دشمنان دي راشئ تماشه ئې او کړئ د خپلو مشرانو دا حالت چې خلکو لیدو نو خلکو به د ډېر خفګان نه ژړل ځنې بدنیته خلکو به خوشالي ښکاره کوله. د یار مامد خان په کورنۍ کښې څۀ کشرانو چې د مشرانو دا حال اولیدو نو هغوي بالکل لیوني شو غصه و و وئیل موږ د خپلو مشرانو د بې عزتۍ بدل اخلو.

دغه مسلم لیګ وۀ دغه ئي د اسلام لوظونه وو د اول ورځې نه او دغه ئي حقیقت و و . خدائي خدمتګار ئې ځکه وژل شرمول چې دې خلکو د پیرنګي سره ډغرې والي نۀ ویریدل او مسلم لیګ د اول وخت نه د پیرنګي وفادار او تابعدار خلک وو چې دغه تالي ښت خلک تر نن پورې په یو ځیره او بله ځیره پۀ حکومتونو کښې ناست وي او بنه په خوند مزو کښې باچاهي کوي خو د دې خاورې اصیل بچو ته نن هم ملک دشمن او غدار وائل کیږي خو ددې هر څه سره تر نن پورې دغه خلک په عدم تشدد کلک ولاړ دي ځکه چې پۀ عدم تشدد کښې د تشدد نه ډېر زور دې ځکه خو توپک وال د عدم تشدد او د قامي خبرې زور ته نشي ټینګیدې چې وخت تیرېږی د عدم تشدد زور به نور هم زیاتیږي ځکه د قامي تولنیز شعور بیدارولو د خبرې کولو هم دا یواځیني لار ده.

چې بیانۀ توره پورته شي نۀ سر پۀ وینو رنګ شي
باداره دغه جنګ دي د وطن اخیري جنګ شي

که زړونه سره یو کړو او لاسونه سره ورکړو
داکاني به لعلونه شي دا بوټي به لونګ شي

ترخو به دوي په کلي کلي ګرځي دا به وائي
دا مینه دې ورانه شي او هغه کور دې ړنګ شي

چې هر زلمی مو جنګ ته هڅوي نو ورته وائي
چې هسې کۀ دې کېنوده نو توره به دې زنګ شي

که ګورې له لستوني به یې سور خنجر راووځي
درویشه چې روان در سره کوم سړے پر ځنګ شي14

دلته دومره جنګونه وشول دومره وینه توې شوه چې اوس د دې خاوري هر وګړے دا غواړي چې دا جنګ دې اخري جنګ شي خو سامراجي قوتونه دا نه غواړي. دوي به ترخو زمونږ د ورانولو او بربادولو تبلیغ کوي کۀ چرې مونږ زړونه او لاسونه سره ورکړو او اتفاق او اتحاد پیدا کړو نو زمونږ دا کاني به لعلونه شي. سامراج چې زمونږ هر زلمی جنګ ته تیاروي نو ورته وائي چې دا توره دې داسې اېښودې ده نو دا به زنګ شي استعمال ئې کړه. دلته چې درسره څوک ځنګ کښې روان وي چې وګورې هغه به د ترخ نه خنجر را وباسي یعني زمونږ خپل خلک ئې زمونږ خلاف کړي دي.

دلته د سترګو خاوندان وخت تېرولی نه شي
دلته کوي حکمراني خاورې ایرې ګرځونه15

دلته داسې یو ماحول جوړ دے داسې نظام مسلط دے چې پۀ دې کښې د سترګو خاوندان وخت نۀ شي تېرولي دلته حق پرسته او باشعوره خلق نه چلیږي بلکې دلته پرانده، بې شعوره او نا پوهه خلق مشري او حکمراني کوي او کولې شي.

خدائے خبر چې څۀ بلاوه په هر کور کښې
ترسهاره به ژړا وه پۀ هر کور کښې

دومره ډیر غربت هم نه و په وطن کښې
ساه مو اخیسته هوا وه په هر کور کښې

د سرو شپې تېرېدلې پۀ سنګر کښې
اؤ دکور مېرمن تنها وه پۀ هر کور کښې

د اولاد پۀ رویه کښي بغاوت وۀ
دیۀ لوے جنګ ابتدا وه پۀ هر کور کښي16

د سرمایه دارانه نظام او سامراجي قوتونو د عملیاتو له وجي چي نن د درېمي نړی ملکونو او خصوصاً زمونږ په خاوره کوم اثرات موجود دي نو دلته ویره ده دهشت دے بربریت نا انصافي ده تنهائي ده غربت جهالت دے غرض د ژوند هغه ټولي محرومی دي چي کومي ژوند کښي امکان لري ځکه نو مونږ وئیلي شو چي دي پورته غزل کښي درویش دراني د حقیقت نګاری نه کار اخستي او د ټولني غوره ترجماني ئي کړي ده.

لۀ ښاره د هندارو سوداګر باسي پۀ زوره
خپل شکل وېرولي دي بلا غونډې څۀ خلک

زیاتېږي ورځ پۀ ورځ دلته د درد غونډي وګړي
پیدا کړي لویه خدایه د دوا غونډې څۀ خلک

داوښکو پۀ شان تت کاندي نظر زما دسترګو
همېش راځي وماته دژړا غونډې څۀ خلک17

دا شعرونه هم د پورتنو شعرونو تسلسل دے او پورتنی خبري دی ضمن کښي هم سمون خوري. دغه رنګ دا لاندي شعرونه هم دغه ضمن کښي د لوستلو دي:

دوير او وېري زمانه خومره اوږده شوه دلتــــه
خوانه راغلي وه بلا، دا ده زړه شـــــوه دلتـــــه

هسي خو توره کله وړي پاتـــه شـــــي نـــه ده
خو دا اول ځل دی چي دومره ښه مړه شوه دلته

هغه وخت لار چي که به چیغــه هـــم را پورته شوله
نو په فضا کښي به بدله پۀ نغمه شوه دلته18

دا یو ښکاره حقیقت دی چي دلته دا خراب حالات او بد امني او جهل څه د څو ورځو خبره نه ده بلکي دا بلا دلته څوانه راغلي وه او زړه شوه دلته دلته توره په زخمونو مړه شوه. دلته اوس چیغه پۀ نغمه نۀ بدلیږي. دا هغه حقیقتونه دي چي زمونږ د ټولني سره تعلق لري.

دا ستوري د هغو دي کهکشان دی د هغو
چي لاس ئي ور رسېږي شین اسمان دی د هغو19

دلته چي څوک زورور دی د هغۀ هر چرته لاس رسي او هر څۀ د هغۀ وي. دا د طبقاتي ټولني يو لوی خاصيت وي چي هلته زورور هر څۀ ته لاس رسولي شي او هر څه د هغۀ وي او خواره طبقه له هر څۀ محرومه وي بيا د زورور نه څوک حساب هم نۀ شي اخستي لکه درویش وائي چي:

دنيا نۀ اخلي حساب لۀ زوروره
ويزيد ته خلکو سره امام پيښنو20

زمونږ ټولنه هم طبقاتي ده دلته هم څوک د زورور سره حساب نه شي کولي او زورور چي څه غواړي هغه کيږي. خواره او محرومه طبقه هيڅ نه شي کولي.

ژړا به درځي ډيره خو ژړا کولي نۀ شي
هيڅ کار دلته د خپل زړۀ پۀ رضا کولي نۀ شي21

يعني دلته تۀ د خپل زړۀ پۀ رضا هيڅ نه شي کولي عن چي ژړا او فرياد هم نۀ شي کولي د دی نه لويه الميه به څۀ وي چي ته د خپل زړۀ آه و فرياد هم نه شي بيانولي د هغي نه هم زورور ويره کوي چي چرته دا فرياد د يو لوی مزاحمت شکل اختيار نه کړي. دا زمونږ د ټولني حقائق دي چي درويش دراني په ډېر حقيقت پسندانه انداز کښي بيان کړي دي.

**حواله جات**


1. ستوري په لمن کښي درويش درانے، مخ ،144 ، اشاعت 2018 ، صحاف نشراتي موسسه کوېټه
2. هم دغه، مخ 147
3. هم دغه مخ 149
4. پۀ کاني کښي هنداره درويش درانی مخ 33 ، اشاعت 2013 ، صحاف نشراتی موسسه کوېټه
5. هم دغه، مخ43
6. هم دغه، مخ 44
7. : ستوري په لمن کښي درويش درانے، مخ ،151 اشاعت 2018، صحاف نشراتي موسسه کوېټه
8. هم دغه مخ 156
9. هم دغه مخ 160
10. کر د ګلو ، درويش درانے، مخ 21 ، اشاعت 2018، صحاف نشراتي موسسه کويټه
11. هم دغه، مخ 23
12. هم دغه، مخ 43
13. دا بوټي به لونګ ،شي درويش درانی مخ 16 ، اشاعت 2018، صحاف نشراتی موسسه کوېټه
14. هم دغه، مخ 18
15. ستوري په لمن کښي درويش درانی مخ ،165، اشاعت ٢٠١٨، صحاف نشراتي موسسه کوېټه
16. هم دغه، مخ170
17. هم دغه مخ 177
18. کر د ګلو ، درويش درانے، مخ 75 ، اشاعت ٢٠١٨ ، صحاف نشراتي موسسه کوېټه

19. پۀ کاني کښي هنداره درویش درانی مخ 50 اشاعت 2013، صحاف نشراتي موسسه کوېټه
20. هم دغه مخ 64
21. دا بوټي به لونګ شي، درویش درانی، مخ 33 ، اشاعت ۲۰۱۸ ، صحاف نشراتی موسسه کوېټه